مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور ۲۰۲۳/۰۷/۱۶

# غزل

تعلیم بندول قام باندي پلان د غلامی دی
ابلیس د زماني مو په ارمان د غلامی دی

مومنه وروره ! دا خبره زړه ته کړه وربښکته
اصلي دښمن په څمکه کې آیمان د غلامی دی

زمونږ په تېر تاریخ کې ساه پرته د آزادی ده
زمونږ د زماني هر یو داستان د غلامی دی

په ډېرو نه پوهېږم خو یوه خبره واوره!
دا ستا په شخصي ګټه کې؛ تاوان د غلامی دی

راغلي په قرآن کې بنده ګي ده د خدای څکه
چي کلک مخالفت کې یې آسمان د غلامی دی

احساس د مالکیت چي پکې پوخ نـه وي بـاوره!
هغه بې مغزه سـر خـو بیا سندان د غلامی دی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ